# القيامة

**مکی سورة دی ۴۰ آیتونه لری**

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

لَآ أُقۡسِمُ بِيَوۡمِ ٱلۡقِيَٰمَةِ ١

**قسم دی د قیامت په( مسلمه واقع کیدونکې) ورځ.**

وَلَآ أُقۡسِمُ بِٱلنَّفۡسِ ٱللَّوَّامَةِ ٢

**او قسم دی په ملامت کوونکی نفس( ضمیر چې د ګناه په ارتکاب او د نیکیو د فرصت د ضایع کولو له امله ځان ملامتوی، چې تاسو به له مړینې وروسته بیا راژوندی کیږئ او د ښو او بدو کړنو حساب کتاب به درسره کیږی).**

أَيَحۡسَبُ ٱلۡإِنسَٰنُ أَلَّن نَّجۡمَعَ عِظَامَهُۥ ٣

**آیا( کافر) انسان ګومان کوی چې مونږ به یې هډوکی راټول نه کړو؟**

بَلَىٰ قَٰدِرِينَ عَلَىٰٓ أَن نُّسَوِّيَ بَنَانَهُۥ ٤

**هو - بلکه مونږ دا قدرت هم لرو چې د هر سړی د ګوتو( کرښې جلا جلا) جوړې کړو.**

بَلۡ يُرِيدُ ٱلۡإِنسَٰنُ لِيَفۡجُرَ أَمَامَهُۥ ٥

**بلکه( کافر) انسان هڅه کوی چې پخپل راتلونکی ژوند کې غافل او په فسق او ګناهونو کې ډوب او مصروف پاتې شی.**

يَسۡـَٔلُ أَيَّانَ يَوۡمُ ٱلۡقِيَٰمَةِ ٦

**( د شک او تردد په حال کې په استهزاء او سپین سترګۍ) پوښتنه کوی چې( هغه ستاسو) قیامت به کله راځی( ټاکلی کال، میاشت او نیټه یې راوښایه).**

فَإِذَا بَرِقَ ٱلۡبَصَرُ ٧

**کله چې سترګې به ( د ویرې او دهشت له شدت نه) خړې او متحیرې واوړی.**

وَخَسَفَ ٱلْقَمَرُ ﴿٨﴾

**سپوږمۍ به تیاره او بې نوره شی.**

وَجُمِعَ ٱلشَّمْسُ وَٱلْقَمَرُ ﴿٩﴾

**( د کائناتو نظام به ګډوډ شی )او لمر او سپوږمۍ به دواړه سره یو ځای( بې نوره او تیاره له مغرب نه راپورته) شی.**

يَقُولُ ٱلْإِنسَٰنُ يَوْمَئِذٍ أَيْنَ ٱلْمَفَرُّ ﴿١٠﴾

**او انسان به په دغه ورځ ووایی چې د تیښتې رو ګودر چیرې دی؟**

كَلَّا لَا وَزَرَ ﴿١١﴾

**نه - هیڅ پناه ځای نشته.**

إِلَىٰ رَبِّكَ يَوْمَئِذٍ ٱلْمُسْتَقَرُّ ﴿١٢﴾

**( بلکه) وروستی تم ځای همدا ستا د رب حضور دی.**

يُنَبَّؤُا۟ ٱلْإِنسَٰنُ يَوْمَئِذٍۭ بِمَا قَدَّمَ وَأَخَّرَ ﴿١٣﴾

**هغه ورځ چې انسان به د خپلو ټولو هغو کړنو خبر شی چې له ځانه یې مخکې رالیږلی او یا ترې وروسته پاتې دی.**

بَلِ ٱلْإِنسَٰنُ عَلَىٰ نَفْسِهِۦ بَصِيرَةٌ ﴿١٤﴾

**بلکه انسان پخپله د خپل حال ډیر ښه ګواه او لیدونکی دی.**

وَلَوْ أَلْقَىٰ مَعَاذِيرَهُۥ ﴿١٥﴾

**که هرڅو( د خپلو ګناهونو د توجیه لپاره) انې بهانې جوړې کړی( خو بیا به هم سزا ورکړی کیږی).**

لَا تُحَرِّكْ بِهِۦ لِسَانَكَ لِتَعْجَلَ بِهِۦٓ ﴿١٦﴾

(ای پیغمبره! د وحې له پوره اوریدو وړاندې د تکرار لپاره) خپله ژبه مه خوزوه (او د قرآن په لوستلو او حفظ کې) بیړه مه کوه.

إِنَّ عَلَيْنَا جَمْعَهُۥ وَقُرْءَانَهُۥ ﴿١٧﴾

بې له شکه( ستا په مبارکه سینه کې) د آیتونو را جمع کول او( ستا په ژبه یې) تلاوت زمونږ کار دی.

فَإِذَا قَرَأْنَٰهُ فَٱتَّبِعْ قُرْءَانَهُۥ ﴿١٨﴾

نو کله چې یې درته په پوره توګه( د جبرئیل په ژبه) واوروو، په هماغه ډول یې تکرار کړه.

ثُمَّ إِنَّ عَلَيْنَا بَيَانَهُۥ ﴿١٩﴾

بیا یې( تاته د احکامو، الفاظو او اشاراتو) توضیح او تفهیم هم زمونږ کار دی.

كَلَّا بَلْ تُحِبُّونَ ٱلْعَاجِلَةَ ﴿٢٠﴾

( ای کافرانو! دا ادعا مو بې دلیله او بې منطقه ده چې وایاست قیامت نشته،) بلکه تاسو هر څه په تلوار غواړی.

وَتَذَرُونَ ٱلْءَاخِرَةَ ﴿٢١﴾

او آخرت مو پرې ایښی دی( یوازې د فانی دنیا په مینه کې ډوب یی).

وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ نَّاضِرَةٌ ﴿٢٢﴾

( یاد ساتئ چې) هغه ورځ به ځینې مخونه ډیر تازه او ځلیدونکې وی.

إِلَىٰ رَبِّهَا نَاظِرَةٌ ﴿٢٣﴾

خپل رب ته به ګوری( او ورته به متوجه وی).

وَوُجُوهٌ يَوْمَئِذٍۭ بَاسِرَةٌ ﴿٢٤﴾

او ځینې مخونه به بدرنګه او راګونځ وی.

تَظُنُّ أَن يُفْعَلَ بِهَا فَاقِرَةٌ ﴿٢٥﴾

ځکه پوهيږی به چې له يوه ملا ماتوونکی عذاب سره مخامخ دی.

كَلَّآ إِذَا بَلَغَتِ ٱلتَّرَاقِىَ ﴿٢٦﴾

نه- کله چې سا ، تر ستونی ورسيږی.

وَقِيلَ مَنْ رَاقٍ ﴿٢٧﴾

او( د ناروغ خپلوان د هغه له طبی علاج نه نا اميده شی ) او وايی: کوم دمونکی او دعا کوونکی( نيک شخصيت) را پيدا کړئ( چې د ده علاج وکړی او له مرګه يې وژغوری).

وَظَنَّ أَنَّهُ ٱلْفِرَاقُ ﴿٢٨﴾

او( ناروغ) پوه شی چې( له خپل دنيوی مال ثروت او اولاد سره يې) د بيلتون شيبې رارسيدلې دی.

وَٱلْتَفَّتِ ٱلسَّاقُ بِٱلسَّاقِ ﴿٢٩﴾

او( د ځنکدن د شدت له امله يې) يوه پښه په بله تاو راتاو شی( او د دنيوی خسران مصيبت يې د آخرت له عذاب او مصيبت سره يو شی) .

إِلَىٰ رَبِّكَ يَوْمَئِذٍ ٱلْمَسَاقُ ﴿٣٠﴾

همدغه دې ستا د رب حضور ته د ورتګ ورځ ده.

فَلَا صَدَّقَ وَلَا صَلَّىٰ ﴿٣١﴾

(پرښتې به ووايی) دغه سړی، نه (د پيغمبر په دعوت) باور درلود او نه يې لمونځ کاوه.

وَلَٰكِن كَذَّبَ وَتَوَلَّىٰ ﴿٣٢﴾

بلکه درواغ يې ګڼله او له حق نه يی مخ ګرځاوه.

ثُمَّ ذَهَبَ إِلَىٰٓ أَهْلِهِۦ يَتَمَطَّىٰٓ ﴿٣٣﴾

او بيا په تکبر او ناز خپلې کورنی ته روان و.

أَوۡلَىٰ لَكَ فَأَوۡلَىٰ ﴿٣٤﴾

**(ای کافره) همدا (عذاب) درته غوره دی، کاملاً غوره.**

ثُمَّ أَوۡلَىٰ لَكَ فَأَوۡلَىٰٓ ﴿٣٥﴾

**بیا هم درته( دغه عذاب) ډېر غوره دی.**

أَيَحۡسَبُ ٱلۡإِنسَٰنُ أَن يُتۡرَكَ سُدًى ﴿٣٦﴾

**آیا انسان ګومان کوی چې بې حسابه او مؤاخذې به پرېښودل شی؟**

أَلَمۡ يَكُ نُطۡفَةً مِّن مَّنِيّٖ يُمۡنَىٰ ﴿٣٧﴾

**آیا دی( په رحم کې) یوه توی شوې نطفه نه وه؟**

ثُمَّ كَانَ عَلَقَةً فَخَلَقَ فَسَوَّىٰ ﴿٣٨﴾

**بیا د وینې یوه ټوټه شوه، بیا کامل انسان شو او(اندامونه یې ورله) برابر کړل.**

فَجَعَلَ مِنۡهُ ٱلزَّوۡجَيۡنِ ٱلذَّكَرَ وَٱلۡأُنثَىٰٓ ﴿٣٩﴾

**او له همده څخه یې د نر او ښځې جوړه پیدا کړه.**

أَلَيۡسَ ذَٰلِكَ بِقَٰدِرٍ عَلَىٰٓ أَن يُحۡـِۧيَ ٱلۡمَوۡتَىٰ ﴿٤٠﴾

**آیا دغه پیاوړی ذات( الله تعالی) دا قدرت او طاقت نه لری چې مړی راژوندی کړی؟( «سبحانک اللهم فبلی» هو- بیشکه یا الله! پاک دی ستا ذات، او ته په ټولو اقداماتو برلاسی او قدرتمن ذات یې).**

**« تمت سورة القیامة بفضل الله و رحمته»**

**=====================**